هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو لیکلې ګلدسته



# د الله پاک

## پهٔ باره کښې 28 سوالونه او جوابونه

(پښتو)

"الله بابا به راشي" دا وئیل څنګ دي؟

"الله پاک تره دے" وئیل څنګه دي؟

"الله پاک ته حاضر او ناظر" وئیل څنګه دي؟

الله پاک ته "سخي" وئیل څنګه دي؟


ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

شيخ طريقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال
محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د اللّٰہ پاک پۀ باره کښې 28 سوالونه او جوابونه

**دُعائے خلیفه امیرِ اهلِسُنَّت عطّار:** یا ربَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله " د اللّٰہ پاک پۀ باره کښې 28 سوالونه او جوابونه " ولولي یا واوري هغۀ ته خپل محبت عطا کړې او هغۀ د مور پلار او اولاد سره بے حسابه اوبخښې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پۀ ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک ولولي الله پاک پۀ هغۀ باندې لس رحمتونه لیږي او د هغۀ پۀ اعمال نامه کښې لس نیکۍ لیکي- (ترمذی، 27/2، حدیث: 484)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**سوال:** نن سبا کوچنیانو [یعني چاړاکانو] او کښو ته تربیت ورکوونکي د "اللّٰه" اِشاره اسمان طرف ته د ګوتې نیولو سره کوي او ورښائي، دا تر کوم حده پورې صحیح دي؟

**جواب:** دا طریقه مکمل غلطه ده- د دغه خورانو پۀ ذِهن کښې به دا نظریات کښېني چې " اللّٰہ پاک بره دے یا بره د هغۀ کور دے پۀ کوم کښې چې هغۀ اوسیږي دا دواړه خبرې کُفر دے-" اللّٰہ پاک د طرف نه هم پاک دے او د کور نه هم- د اسمان طرف ته د اشارې کولو پۀ ځائے هغوئي ته د لاسونو پۀ ذریعه لفظ " اللّٰه" جوړول او ښودل

پکار دي او د دې طريقه هُم ډيره اسانه ده- د ښي لاس ګوتې معمولي شان کولاؤ کړئ او د غټې ګوتې سَر بره طرف ته لږ شان نيغ کړئ او د شهادت د ګوتې د اړخ پهٔ مينځ کښې يـې ولګوئ بيا چې د ښي لاس د تَلي د شا طرف ته وګورئ نو لفظ " الله" به محسوس شي- داسې وکړئ او د کَڼ لاس د تَلي اُلټا طرف ته وګورئ نو الله به ليکلے شوے پهٔ نظر راځي-

## فلمونه د کُفر د زده کولو ذريعې دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د الله پاک د پاره د کور او د طرف ثابتوونکې جُملې پهٔ خلقو کښې کافي عامې کيږې مثلاً "بره والا" وئيل خو ډير زيات عام دي- کوم چې زياتره خلقو د فلمونو او ډرامو نه زده کړې دي- هر مسلمان کُفر نشي پيژندلے، پهٔ دې وجه باندې به پته نهٔ لګي چې څومره مسلمانان روزانه دا غلطياني کوي- کومو خلقو چې پهٔ ژوند کښې چرته يو ځل هم دا جُمله وئيلې وي هغوئي له پکار دي چې د دې نه توبه کړي او بيا د سر نه کلمه ولولي او که واده يـې کړے وي نو بيا دې نکاح هم وتړي- کاش چې مسلمان د بدې خاتمې نه پهٔ ځان کښې ويره پيدا کړي، د فلمونو، ډرامو او د سندرو او سازونو نه ډډه وکړي او د دِين د ضرورتونو عِلم حاصل کړي- آه! مرګ هر وخت پهٔ سر ولاړ دے! مرګ د بيمارو، دهماکو، هنګامو، سيلابونو، طوفاني بارانونو، زلزلو، د وور لګيدو، د تيز رفتاره ګاډو د حادثو پهٔ ذريعه روغ رَمټ تکړه ځوانان هم د سترګو پهٔ رَپ کښې يوسي او د ګُل پهٔ شان ځواني يـې د خاورو سره خاورې کړي-

جَل گئے پَروانے شمعیں پانی پانی ہو گئیں  
میرا تیرا ذِکر ہو کر اَنجمن میں رہ گیا

(ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 1/99، 98)

**سوال:** که چرې ماشوم پوښتنه وکړي چې الله چرته دے؟ نو هغهٔ له دې څهٔ جواب ورکړے شي او پهٔ دې موقع باندې کوم اِحتياطونه ضروري دي؟

**جواب:** واقعي چې دا ډير نازک سوال دے- عام طور خلق پهٔ داسې پوښتنه باندې

اسمان ته ګوته ونيسي چې الله پاک بره دے حالانکې دا ډيره سخته کلمه ده ځکه چې الله پاک پهٔ څهٔ ځائے کښې د اوسيدو نه پاک دے- جوماتونو ته د الله پاک کورونه وائي، خانه کعبے ته هم بيتُ الله يعنې د الله کور وائي خو د دې نه مُراد دا نهٔ دے چې الله پاک هلته اوسيږي- ځکه که ماشوم پوښتنه وکړي چې الله چرته دے؟ نو جواب دې ورکړے شي چې الله پاک شته خو مونږ يې نشو ليدلے يا داسې څهٔ بَل څهٔ جواب دې ورکړے شي- بعضې وخت ماشومان داسې پوښتنې کوي چې د هغوئي سمبالول ګران شي- پهٔ ماشومتوب کښې به مونږه هم اوريدل چې کنځلې مهٔ کوه! دروغ مهٔ وايه! ګنې نو الله به مو د سرو زرو پهٔ لَخته باندې ووهي نو داسې ډيرې غلطې خبرې عامې دي- د ماشومانو مطمئين کول ډير ګران دي، پهٔ دوئي کښې دومره عقل نهٔ وي چې پهٔ دې خبرو باندې پوهه شي- خلق عام طور پهٔ داسې خبرو باندې ماشومانو ته غصه کيږي چې چپ شه! تهٔ پهٔ دې خبرو باندې نهٔ پوهيږې، داسې ماشومانو ته غصه کيدل نهٔ دي پکار- (ملفوظاتِ امير اہل سنّت، 118/2)

**سوال:** ماشومانو ته د الله پاک پهٔ باره کښې څهٔ وئيل پکار دي؟

**جواب:** الله "پاک" دے، الله پاک " يو" دے، مونږ له هر څهٔ هم الله پاک راکوي، هغهٔ مونږه نهٔ وينو، چې دا ورته نهٔ وايئ نو ماشومان به پوښتنه کوي: " الله پاک څنګه دے؟ څومره غټ دے؟" وغيره- ماشومان دې د هغوئي د نفسياتو مطابق پوهه کړے شي چې " الله پاک مونږ ويني خو مونږه هغهٔ نشو ليدلے" حضرت سَهل بن عَبدُ الله تُستَرِي رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيه ته د دريو کالو عمر کښې د هغوئي ماما تربيت ورکړے وو چې " کله تهٔ پهٔ بستره باندې سملې نو درې کرته ژبې له د حرکت ورکولو بغير هُم پهٔ زړهٔ کښې دا کلمات وايه: "اَللّٰهُ مَعِيَ، اَللّٰهُ نَاظِرٌ اِلَيَّ، اَللّٰهُ شَاهِدِيْ " يعنې الله پاک زما سره دے، الله پاک ما ويني، الله پاک زما ګواه دے- بيا يې وفرمائيل: " اوس **7** کرته ووايه" څهٔ موده پس يې وفرمائيل: " اوس هره شپه يولس کرته وايه" دا به يې وئيل- (احياء العلوم، 91/3 ملخصاً) او وروستو حضرت سَهل بن عبدُ

الله تُستَري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډیر لوئي وَلِيُّ الله جوړ شو- حضرت تُستَري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ صِدِّیقین اولیائے کرامو کښې وو- (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 185/7)

**سوال:** اکثر مئیندې وغیره ماشومان پۀ دې طریقه ویروي چې " الله بابا به راشي" داسې وئیل څنګ دي؟

**جواب:** خلق " الله بابا" غالباً چې فقیر ته وائي، د ویونکي د دې نه مُراد د الله پاک ذات نۀ وي، هسې ماشوم پۀ دې طریقه ویرول نۀ دي پکار چې ماشوم به ویریدونکے جوړ شي- (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 84/8)

**سوال:** چې الله پاک وینی نو فرښتے یې ولې مقرر کړې دي؟

**جواب:** پۀ دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې الله پاک وینی- دا د قرآنِ کریم نه ثابت دي او دا زمونږه د ایمان حصه ده- که چرې څوک دا ذِهن جوړ کړي چې الله پاک نۀ وینی نو هغۀ به مسلمان پاتې نشي- فرښتے مقرر کول دا د الله پاک مرضي ده چې نظام داسې چلوي، الله پاک د فرښتو هیڅکله هم محتاج نۀ دے- د فرښتو لیکل دا هم یو امتحان دے چې د څومره خلقو به د دې پۀ ذریعه باندې ایمان پخیږي او د څومره خلقو به ایمان هم بربادیږي نو پۀ هره معامله کښې امتحانونه دي-

## الله پاک د همیشه نه خبر دے

که فرښتے اعمال نۀ لیکي نو بیا هم الله پاک ته معلومه ده- فرښتے خو به هُغه وخت لیکي چې کله هغوئي ته معلومه شي چې دا عمل شوے دے خو الله پاک خو د همیشه نه خبر دے چې څوک څۀ کوي؟ د اربونو کهربونو خلقو او د ټولو معاملو د هر سعت بلکې د سعت د کروړومې حصې هم بلکې زما سره د وئیلو د پاره الفاظ نشته خو زما رَبّ ته هُغه هر څۀ معلوم دي- لږ سعت پس به زما سره څۀ کیږي؟ زما ذهن ته به کومه یوه خبره راځي؟ زۀ به څۀ وایم؟ زما نه مخکښې، د فرښتو نه مخکښې الله پاک ته معلوم دي- (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 509/1)

**سوال:** د الله پاک د ذات په باره کښې داسې قِسمه وسوسې مخکښې نۀ وې خو اوس داسې ذهنونه جوړېږي نو د دې عمومي وجهې څۀ کېدے شي؟

**جواب:** د الله پاک د ذات په باره کښې د وسوسو راتللو سبب د عِلمِ دِين کمے، د عاشقانِ رسول صحبت نۀ اختيارول دي۔ د سوشل مېډيا کردار هم کېدے شي چې داسې سوچ لرونکي د دَهريانو او د مُنکرانو د ليکلو د لوستلو، د هغوئي د تقريرونو اورېدو او د کلپ Clip اورېدو او کتلو سره هم ذهن بربادېږي۔ سوشل مېډيا اِستعمالونکي دې صرف د دعوتِ اِسلامي سوشل مېډيا جوائن کړي او د دې د وېډيو کليپونو Video Clips او د ليکلو نه دې فائده واخلي۔ د الله پاک په کَرم باندې به داسې وسوسې ذهن ته نۀ راځي۔ [1] (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 510/1)

**سوال:** يو کَلي ته د ”الله پاک کلے“ وئيل څنګ دي؟

**جواب:** هيڅ باک پکښې نشته ځکه چې هر څيز د الله پاک دے۔ په قرآنِ پاک کښې دي: ﴿ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ ﴾ (پ3، البقرة: 284) **ترجمۀ کنزُ العِرفان:** ”څۀ چې په اسمانونو کښې دي او څۀ چې په زمکه کښې دي ټول صرف د الله دي۔“ نو جومات ته خو هم ”بيتُ الله“ وئيلے شي، دغه شان کلے هم په حقيقت کښې د الله پاک دے، بلکې ډېر کَلي د الله پاک دي، که ”د الله کلے“ نوم کېښودے شو نو په دې کښې هيڅ باک نشته۔ (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 26/8)

**سوال:** ”الله پاک بے پروا بادشاه دے“ داسې وئيل څنګ دي؟

**جواب:** شرعاً په دې کښې هيڅ باک نشته۔ ځکه چې کله لفظ ”بے پروا“ د الله پاک د پاره ووئيلے شي نو معنیٰ به وي: د هغۀ هيڅ ته هم حاجت نشته، نۀ هغۀ د څۀ نه وېرېږي، نۀ د هغۀ څۀ ته ضرورت شته، هغه بے پروا بادشاه دے۔ (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 44/8)

**سوال:** ”الله پاک بَره دے“ آیا داسې وئیلے شو؟

**جواب:** الله پاک د ځائے نه پاک دے ځکه دا نشي وئیلے چې الله پاک بره دے یا ښکته دے یا

❖ سوشل میډیا ایډریس:

1 ...سوشل میڈیا کے ایڈریس:

FACEBOOK TWITTER INSTAGRAM YOUTUBE TIKTOK

ښي طرف یا کڼ طرف ته دے- (بهار شریعت، 19/1، حصه: 1 ماخوذاً) بعضې خلق وائي چې الله پاک په اسمان کښې اوسيږي او څوک وائي چې په عرش باندې اوسيږي حالانکې د الله پاک د پاره هیڅ مکان یعنې د پاتې کیدو، قیام کولو او د ایساریدو ځائے وي، داسې هیڅ معامله نشته- د الله پاک هیڅ بدن نشته او هغهٔ د بدن او وجود نه پاک دے- (در مختار، 358/2 ماخوذاً) دا وئیل چې الله پاک بره دے دې ته علمائے کرامو کُفر وئیلے دے- (بحر الرائق، 203/5) د الله پاک د ذات په باره کښې په داسې مسئلو د ځان پوهه کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د مکتبة المدینه کتاب ”کُفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب“ ولولئ- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ستاسو ایمان به تازه شي او تاسو ته به په سوونو نهٔ بلکې په زرګونو د کُفر د داسې جملو پته ولګي کومې چې نن سبا په خلقو کښې عامې دي- (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 119/2)

**سوال:** که د توجه نهٔ لرلو په وجه د الله پاک په باره کښې منفي خبرې د خُلې نه ووځي نو آیا ایمان ضائع کیږي؟

**جواب:** د توجه نهٔ لرلو ډیرې معنې کیدے شي، دلته معنیٰ واضحه نهٔ ده- که وئیل یې یو څهٔ غوښتل او په تادی کښې یې د خُلې نه بے اختیاره د کُفر لفظ ووتو خو

بیا دا د خپلې خُلې نه په وتلې خبره باندې ولاړ دے چې ما صحیح وئیلې دي نو بیا به په دۀ باندې د کُفر حکم لګي چې دا هغه باقي ساتي- د دې د مثال ورکولو نه هم نَعُوذُ بِاللّٰه ویریږو- بهر حال که د مسلمان د خُلې نه هغۀ نۀ غواړي او د الله پاک په باره کښې د توهین څۀ خبره ووځي نو دا به فوراً اَستَغفِرُ الله، توبه توبه، نه نه وغیره وائي، ځکه د رجوع کولو په شکل کښې به په دۀ باندې څۀ حکم نۀ لګي-

(ردالمحتار، 353/6 ملخصاً۔ بهارِ شریعت، 456/2، حصه: 9) (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 169/7)

**سوال:** الله پاک ته سِتم (یعني ظُلم) کولو والا وئیل څنګ دي؟

**جواب:** الله پاک ته سِتم کولو والا وئیل ښکاره کُفر دے او د دې وئیلو به کافر شي- (فتاویٰ امجدیه، 432/4) د سِتم معنیٰ د ظُلم ده خو الله پاک ظُلم نۀ کوي او هغۀ د ظُلم کولو نه پاک دے- ”کفریه کلمات کے بارے میں سُوال جواب“ نومې کتاب ولولئ په دې کتاب کښې داسې قِسمه ډیر د کفر د الفاظو مثالونه ورکړے شوي دي او دا بیان کړے شوي دي چې هٔغه کومې داسې خبرې دي د کومو د وئیلو په وجه چې انسان د اِسلام نه خارج کیږي او د هغۀ نِکاح ماتیږي- یاد ساتئ چې د کُفر د خبرو په باره کښې عِلم حاصلول فرض دے- (ردالمحتار، 107/1) نن سبا خلقو ته د کُفر د خبرو په باره کښې عِلم نۀ وي چې له وجهې یې هغوئي د کُفر خبرې کوي او ثوک یې چې نۀ کوي هغوئي یې اوري او آؤ! آؤ پرې کوي- که مخامخ ګس ښکاره د کُفر خبرې کوي نو په دې شکل کښې که چرې اوریدونکے پرې پوهیږي او د هغۀ سره اتفاق کوي [آؤ! آؤ پرې کوي] نو هغۀ به هم کافر شي-

(کفریه کلمات کے بارے میں سُوال جواب، ص 71) (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 290/2)

**سوال:** د الله پاک په باره کښې چې د یو مسلمان کومه عقیده پکار ده د دې د معلوماتو نۀ لرلو په وجه که چا دا جمله (زما په قِسمت کښې شاید چې الله پاک څۀ لیکل هیر کړي دي) ووئیله نو بیا څۀ حکم دے؟

**جواب:** لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِالله، اللہ کریم د هِیرې نه پاک دے، هغۀ نۀ هیروي- [1] کومه جمله چې وئیلے شوې ده پۀ دې کښې د یو دِیني ضرورت نه انکار دے، کوم چې کُفر دے- (بهارِ شریعت، 173/1، حصه: 1 ماخوذاً) که څوک د یو ملک د یو قانون مخالفت وکړي او چې کله هغۀ ونیولے شي نو هغۀ به وائي چې ما ته پۀ دې باره کښې معلومات نۀ وو، نو د هغۀ دا خبره به منلے شي که هغۀ له به سزا ورکولے شي؟ ظاهره ده چې هغۀ له به سزا ورکولے شي، ځکه چې دا د ملک قانون دے- (لکه څنګه چې د یو ملک قوانین وي داسې د اِسلام هم قوانین دي او اِسلامي قانون دے چې د دِین د هیڅ قِسمه ضرورت نه اِنکار کوونکے کَس مسلمان نۀ پاتې کیږي-) پۀ دې جمله کښې خو هیرول د اللہ کریم د پاره پۀ یقین سره وئیلے شوي دي، کوم چې ښکاره کُفر دے، کوم کَس چې هم داسې وائي هغۀ به د اِسلام نه خارج کیږي او د هغۀ نکاح به هم ماتیږي- (خلاصة الفتاوٰی، 384/4۔ بهار شریعت، 461/2، حصه:9) (ملفوظاتِ امیر اهل سنّت، 288/3)

**سوال:** بعضې وخت ګنهګاران خلق هم د حج سعادت حاصل کړي، که څوک د داسې کَس پۀ باره کښې ووائي چې "دا خو یو نمونځ هم نۀ کوي، ډیر ګنهګار انسان دے، د دۀ د حج توفیق نصیب شو، وګوره! اللہ پاک څنګه خلق غواړي، مونږه خو نمونځونه هم کوو خو اللہ پاک مونږه نۀ غواړي" داسې وئیل څنګ دي؟

**جواب:** که چرې پۀ دې معنو کښې یې ووائي چې "اللہ پاک پۀ ګنهګارانو باندې هم مهربانه دے او هغوئي هم راغواړي، خو بعضې وخت نیکان هم نۀ غواړي، دا د هغۀ مرضي او بے نیازي ده" نو پۀ داسې وئیلو کښې هیڅ باک نشته- مَعَاذَالله! که چرې اعتراض کوي چې "اللہ پاک هغۀ ولې نۀ غواړي؟ هغۀ له پکار دي چې نیکان خلق

---

[1] ... لکه څنګه چې پۀ قرآنِ پاک کښې اِرشاد دے: ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ۝﴾ (پ16، مریم: 64)
**ترجمۀ کنزُ العِرفان:** او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَبّ هیرولو والا نۀ دے-

وغواړي" نو داسې ګس به کافِر شي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص 141- فتاویٰ رضویه، 293/29، 296) (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 417/3)

**سوال:** " الله وارث" وئيل څنګه دي؟

**جواب:** الله وارث وئيل صحيح دي ځکه چې د الله پاک يو صفتي نوم "وارث" دے- (ابن ماجه، 279/4، حديث: 3861) (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 73/4)

**سوال:** د چا سره که څۀ وشي نو هغۀ وائي چې " الله پاک زما سره ظُلم وکړو" داسې وئيل څنګ دي؟

**جواب:** اَستَغفِرُالله! داسې وئيل کُفر دے- الله پاک ته د ظُلم کولو والا ويونکے مسلمان نۀ پاتې کيږي- (فتاویٰ امجديه، 432/4) نَعُوذُ بِالله که هغۀ داسې وئيلي وي نو د دې نه دې توبه کړي، کلمه دې ووائي او بيا دې د سَر نه مسلمان شي او که واده يې کړے وي نو بيا دې نِکاح هم وتړي- (فتاویٰ امجديه، 432/4) که د چا مُريد وو نو بيا دې دوباره پۀ جامعو شرائطو باندې پوره د چا پير مُريد جوړ شي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص 524، 525) الله کريم دې زمونږه ايمان سلامت کړي-
(ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 304/4)

**سوال:** د خپل ځان رښتوني ثابتولو د پاره بعضې خلق پۀ دې وئيلو ليدلے شوي دي چې: " الله حاضر او ناظر ګنړم او دا وايم" داسې وئيل څنګ دي؟

**جواب:** علمائے کرامو د الله پاک د پاره د حاضر او ناظِر لفظ استعمالولو نه منع فرمائيلي ده- (بہارِ شریعت، 932/2، حصه: 12) د حاضر او ناظر پۀ ځائے دې د الله پاک د پاره سَمِيع او بَصِير لفظ استعمال کړے شي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص 571) پۀ دې طريقه باندې حَلف اخستے کيږي، يعنې قَسم ورکړے کيږي، پۀ دې کښې هم د الله پاک د پاره د حاضر او ناظر الفاظ استعمالولے کيږي کوم چې شرعاً

منع او غلط دي- د حَلف اخستو پهٔ وخت دې دا الفاظ ووئيلے شي: زهٔ الله پاک سَمِيع او بَصِير ګڼم او وايم- (فتاویٰ رضویه، 640/14، 641، 688، 689)(ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 351/5)

**سوال:** خلق وائي چې الله پاک پهٔ دُنيا کښې نشو ليدلے نو پهٔ قيامت کښې به يې څنګه وينو؟

**جواب:** جنَّت خو هم مونږه پهٔ دُنيا کښې نهٔ دے ليدلے او د دې نه علاوه هم ډير څيزونه دي کوم چې مونږه نهٔ دي ليدلي خو مونږ پرې ايمان راوړے دے نو چې کله الله پاک وغواړي نو مونږه به ضرور جنَّت ته ځو، د الله پاک پهٔ عطا سره د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله باندې چې مونږه کله جنَّت ته لاړ شو نو هلته د ټولو نه لوئې نعمت د الله پاک دِيدار دے- (بهارِ شریعت، 162/1، حصه:1) هغه به هم د الله پاک پهٔ کرم باندې عطا شي او څنګه چې الله پاک غواړي مونږه به هٔغسې د الله پاک ديدار کوو، پهٔ دې باره کښې د عقل نه د کار اخستو ضرورت څهٔ دے- (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 181/2)

**سوال:** آيا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه علاوه چا د الله پاک ديدار کړے دے؟ که چرې کړے يې دے نو د هغوئې نوم هم وښايئ-

**جواب:** پهٔ ويخه د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه علاوه چا هم د الله پاک ديدار نه دے کړے او د هغوئې نه علاوه د بل چا د پاره پهٔ دُنيا کښې پهٔ ويخه د الله پاک ديدار ممکن نهٔ دے- البته! پهٔ خوب کښې اوليائے کرام زيارت کولے شي او کړے يې هم دے لکه څنګه چې د حضرت امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ خوب کښې **100** کرته د الله پاک ديدار نصيب شو- (نبراس، ص169) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! مونږه ټول به پهٔ اخرت او قيامت کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت پهٔ برکت چې کله جنَّت ته لاړ شو نو هلته به د الله پاک زيارت کوو- (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 173/8)

**سوال:** " د الله پاک پۀ دُعا سره دا کار وشو" وئيل څنګ دي؟

**جواب:** د الله پاک پۀ دُعا سره هر څۀ ټيک دي وغيره، داسې قِسمه جملې خلق د جهالت پۀ وجه وائي، دا جمله نۀ ده وئيل پکار- مونږه د الله پاک پۀ بارګاه کښې دُعا کوو، الله پاک د چا نه دُعا نۀ غواړي، د الله پاک ذات د ټولو نه لوئي دے او ټولو ته هم هغۀ عطا کوي- خلق پۀ خپل مينځ کښې يو بل ته هم وائي چې ستاسو پۀ دُعا سره هر څۀ ټيک دي، ستاسو پۀ دُعا باندې فلانکے کار وشو دا جملې خو وئيلے شې خو دا وئيل چې " د الله پاک پۀ دُعا سره دا کار وشو" صحيح نۀ دي- (ملفوظاتِ امير اهل سنّت، 232/10)

**سوال:** الله پاک ته پۀ دُعا کښې سخي وئيل څنګ دي؟

**جواب:** پۀ دُعا او د دُعا نه عِلاوه هم الله پاک ته سخي وئيل منع دي- الله پاک ته د سخي وئيلو پۀ ځائے "جَوَاد" وئيل پکار دي- (فتاوىٰ رضويه، 165/27) آؤ! خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته سخي وئيلے شې- (ملفوظاتِ امير اهل سنّت، 38/2)

**سوال:** "فلانکے کار به زۀ وکړم باقي الله مالِک دے" وئيل څنګ دي؟

**جواب:** پۀ داسې وئيلو کښې هيڅ باک نشته- د دې مطلب دا نۀ دے چې څۀ هم زۀ کووم د هغې الله پاک مالِک نۀ دے بلکې پۀ دې معنیٰ کښې دي چې د فلانکي کار کولو کوشش زما د طرف نه او پوره کول به يې د الله پاک د طرف نه وي لکه څنګه چې مونږه وايو چې د نيکۍ دعوت ورکول زمونږه کار دے او هدايت به الله پاک ورکوي- د هر څيز مالِک الله پاک دے، که څوک د خپل قلم پۀ باره کښې ووائي چې قلم زما دے نو د دې مطلب به دا نۀ وي چې الله پاک مالِک پاتې نۀ شو بلکې د دې حقيقي مالِک هم الله پاک دے او الله پاک دا عطا کړے دے، دغه شان دا هم د محاورے پۀ طور وئيلے شي چې " فلانکے کار به زۀ وکړم باقي الله مالِک دے" څکه د دې مُحاورې پۀ وئيلو کښې هيڅ ګناه يا کُفر نشته- (ملفوظاتِ امير اهل سنّت، 204/1)

**سوال:** " الله پاک په دُنيا کښې کيدونکے ظُلم ولې نهٔ منع کوي؟" وئيل څنګ دي؟

**جواب:** دا د اعتراض الفاظ دي او په الله پاک باندې اعتراض کول کُفر دے- دا دُنيا دارُ العَمَل [يعني د عمل ځائے] دے او په دې کښې د بندګانو امتحان دے ځکه که څوک ظُلم هم کوي نو هغهٔ د ځان د پاره د دوزخ عذاب تياروي او په چا باندې چې ظُلم کيږي که هغهٔ صبر وکړي نو د هغهٔ د پاره د جنَّت خزانه ده- د دُنيا په نظام کښې د الله پاک بے شميره حکمتونه وي ځکه چې الله پاک څهٔ هم کوي هغه صحيح کوي او په دې باندې د اعتراض کولو هيڅ ګنجائش بلکې د اعتراض خيال هم نشته-

(ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 504/2)

**سوال:** که چا ووئيل چې " درورہ دومره نيکئ هم مهٔ کوه چې د خُدائے جزا کمه شي" داسې وئيل څنګ دي؟

**جواب:** لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِالله، دا ښکاره کُفر دے- چا کيدے شي چې دا جمله په ټوقو کښې وئيلې وي خو په ټوقو کښې وئيلے شوے کُفر هم کُفر دے- توبه اَستَغفِرُ الله داسې سوچ هم نهٔ دې کول پکار او مسلمان داسې سوچ هم نشي کولے- يقيناً چې دا د خرابو صحبتونو او د فلمي ډائيلاګونو د اوريدو نتيجه ده په هغې کښې به داسې خبرې کيږي- الله پاک دې کَرم وکړي او زمونږه ايمان دې سلامت وساتي-

(ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 290/3)

**سوال:** الله پاک هر څهٔ اوري پوهيږي، بعضې خلق بيا هم دا جمله وائي: " تاسو دُعا وکړئ چې الله پاک زما واوري يا زما دُعا قبوله کړي" داسې وئيل څنګ دي؟

**جواب:** د الله پاک يو صفتي نوم " سميع" هم دے- د سميع معنىٰ ده اوريدلو والا- ياد ساتئ چې د الله پاک اوريدل زمونږه د اوريدو په شان نهٔ دي، مونږه د اوريدو د پاره د جسماني غوږونو محتاجه يو خو الله پاک د غوږونو نه پاک دے، هغهٔ زمونږ په شان بدن

او وجود والا نهٔ دے، که څوک د الله پاک جسماني غوږونه اومني نو هغهٔ به کافِر شي- (درمختار، 358/2 ماخوذاً) الله پاک د خپل شان لائق اوري او د ورو نه پهٔ ورو اواز هم اوري، هيڅ اواز د هغهٔ نه پټ نهٔ دے، څکه داسې دُعا کولے شې: اے الله پاکه! زما دُعا قبوله کړې- (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 222/6)

**سوال:** الله پاک ته God وئيل څنګ دي؟

**جواب:** د الله پاک د پاره د God پهٔ شان الفاظو استعمالولو نه بچ کيدل پکار دي- د الله پاک چې کوم مبارک نومونه مشهور دي او پهٔ کومو نومونو سره چې عاشقانِ رسول علمائے کرام د الله پاک ذِکرِ خير کوي مونږ ته صرف هُغه نومونه استعمالول پکار دي او د God وغيره الفاظو استعمالولو نه بچ کيدل پکار دي- د الله پاک د پاره د الله، خُدائے او پروردګار پهٔ شان الفاظ استعماليدے شي اګر که پروردګار او خُدائے د عربي نومونه نهٔ دي خو علمائے کرام دا استعمالوي- (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 371/1)

**سوال:** آيا د الله پاک نه هر څهٔ غوښتلے شي؟

**جواب:** آؤ جي! ټول جائز خيزونه د الله پاک نه غوښتلے شې- البته د ګناهونو دُعا نشي کولے- (فضائلِ دُعا، ص 176) لکه نَعُوذُ بِاللّٰه دا دُعا نشي کولے چې ما له شراب راکړې- (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 317/6)

**سوال:** که پهٔ کور کښې څوک پيغله يا ځلمے وفات شي نو بعضې وخت پهٔ بے صبري کښې د خُلې نه داسې الفاظ ووځي کوم چې وَتل نهٔ وي پکار، پهٔ دې باره کښې څهٔ ارشاد کړئ- (2)

---

2 ... دا او د دې نه مخکښې سوال د شعبه ملفوظاتِ امیر اهلسُنَّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب امیرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے دے-

**جواب:** په کور کښې که څلمے یا څوک هم وفات شي نو صبر کول پکار دي- په دې موقع باندې بعضې وخت د خُلې نه داسې الفاظ ووځي کوم چې وَتل نهٔ دي پکار- بعضې وخت خو هُغه جُملې د کُفر هم وي مثلاً بعضې خلق وائي چې آیا د دهٔ د مرِ کیدو هم لا څهٔ عمر وو؟ بعضې وائي: یا الله! ستا د دهٔ په ځوانۍ هم ترس نهٔ راتلو؟ نَعُوذُ بِالله! که چا دا ووئیل نو ویونکے کافِر شو، د اِسلام نه ووتلو ځکه چې هغهٔ الله پاک ته بے رحمه ووئیلو- یقیناً چې الله پاک بے رحمه نهٔ دے- د چا وخت چې کله پوره شي نو هغهٔ وفات کیږي- (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنّت، 361/1)

**سوال:** که چا د تَعزیت [یعني لاس نیوي] کولو په وخت د کُفر جمله ووئیله بیا د دې تائید [یعني ملاتړ] کول څنګ دي؟

**جواب:** د کفر د جملې تائید هم کُفر دے- که د غم په موقع باندې بنده بچیله د کُفر جمله نهٔ وائي نو بعضې وخت دُعا له راتلونکي یې وائي مثلاً د تعزیت [یعني لاس نیوي] کولو په وخت به وائي: الله پاک ته معلومه نهٔ وه څهٔ ضرورت راپیښ شوے وو چې هم په ځوانۍ کښې یې مړ کړو؟ بیا به اوریدونکے هم داسې جملې وائي؟ واقعي ده چې څهٔ ضرورت به راپیښ شوے وي یا صرف آؤ! آؤ! به وکړي او تائید به وکړي نو داسې جملې وئیل یا د دې تائید کول دواړه خبرې کُفر دے ځکه چې الله پاک ته د چا حاجت او ضرورت نشته، هغهٔ د چا محتاجه نهٔ دے، مونږه د هغهٔ محتاجه یو، ارشادِ رَبُّ العِباد دے: ﴿ وَاللّٰهُ الْغَنِیُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ ﴾ (پ26، محمد: 38)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** " او الله بے پروا دے او تاسو ټول محتاج یئ-" نو مونږ ټول د هغهٔ د دَر محتاج یو ځکه که چا الله پاک ته محتاج ووئیلو نو هغهٔ کافِر شو-

# د کُفر بکواس کولو سره نکاح او اِیمان ختمیږي

چا چې داسې د کُفر جمله ووئیله نو د هغۀ ایمان او نکاح دواړه ختم شو بلکې چا چې د پوهیدو باوجود پرې آؤ آؤ وکړو، اګر که پۀ خُله باندې یې نۀ وي وئیلې صرف سَر یې وخوزولو او پۀ زړۀ کښې یې خبره صحیح اومنله نو دا هم د اِسلام نه ووتو، دۀ ته به هم د سر نه توبه کول او د سر نه کلمه وئیل پکار وي، که واده یې کړے وي نو نکاح به ورله هم دوباره تړل پکار وي، که حج یې کړے وي نو هغه هم ختم شو ځکه به ورته د وَس لرلو شکل کښې بیا حج کول وي- باقي پاتې ټولې نیکئ هم د کُفر له وجهې بربادیږي، که د اِسلام پۀ زمانه کښې پرې څۀ قضا نمونځونه پاتې وو نو هغه به ورته د ایمان راوړلو نه پس ادا کول وي-

(ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 363/1)(بہارِ شریعت، 288/1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 — 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net